دریمه کچه

# ورکې اوبه

storyweaver PRATHAM BOOKS

education above all التعليم فوق الجميع



**لیکوال:** شلیني شرینواسن
**انځورګر:** اوپن مایو باتاچایا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د رڼا د کلي د اوبو کاریز مخ په وچېدو ؤ. تاج بیګم د باران غوښتنه کوله. اموګلې ټول سطلونه او لوښي را ټول او ډک کړل. هغې وویل: څومره چې کولای شو باید اوبه زیرمه کړو. سدوخان ځای ژوراوه ترڅو لږ اوبه پیدا شي. هغه وویل: تر څو لږ باران وشي، مونږ یوه اندازه اوبو ته اړتیا لرو.



رڼا خپله کتابچه او پنسل را واخیست. او خپله د سوچ خولۍ يې په سر کړه او خپلې پلرګنۍ پسې د اوبو ډنډ خواته ورغله. هغې د اوبو د ډنډ تل له نږدې ولیده چې وچ شوی او چویدلی وه. رڼا حیرانه شوه: دا اوبه له دغه ډنډه چیرته تللي دي؟ آیا اوبه تبخیدلي دي؟ غلا شوي دي؟ دا یو سرګنګسي ده!




رڼا د دغسو داستانو حل خوښیده:
لکه په هغه وخت کې چې تاج بیګم خپلې د مطالعې عینکې پیدا نشوی کړی.
رڼا هغه د هغې په کتاب کې پیدا کړې وې، او د کتاب مخ یې د لوستلو په وخت کې په نښنه کړی ؤ.
بیا یو بل وخت – ولې فیلان د شولو کروندو ته تللي وو؟ ځکه د هغوي خرطومونو د پخو شولو بوی حس کاوه.
بیا رڼا وویل: زه به اوبه را پیدا کړم.

رڼا د ډنډ بل اړخ ته لاړه او مړه کبان او وچ نښتر یې ولیدل.رڼا له کب نیونکي څخه وپوښتل:

پوهیږې چې اوبه به چیرته تللې وي؟ کب نیونکي وویل: لاندې ویالې ته.



رڼا په وچه وياله کې ښکته خواته لاړه. هلته لاندې يو بل ډنډ ؤ. هلته ډيرې وزې وې خو د اوبو څرک نه لګيده. رڼا له شپانه څخه وپوښتل: معلومات لرې چې اوبه به چيرته وي؟ هغه وويل: په پورته وياله کې. رڼا وويل: زه له هغه ځايه راغلم. هلته هيڅ اوبه نه وې. شپانه وويل: له هغې څخه به پورته چيرته وي له کوم ځايه چې ستاسو اوبه راځي.







رڼا پورته ډنډ ته لاړه. بیا لږ نوره هم د ډنډ پورتیني برخې ته یې ځان ورساوه. هلته هم اوبه نه وې. هیڅ مرغه نه لیدل کیده. یوازې یو کس هلته ناست ؤ. هغه کس سبنا وه د رڼا د ښوونځي د وخت ملګرې. بیا رڼا هغې ته غږ وکړ: زه نشم کولای چې دلته اوبه پیدا کړم، آیا تا سره څه معلومات شته؟




سینا وویل: لاندې ویاله کې شته.
ناڅاپه رڼا په غصه شوه او خپله پښه یې پر ځمکه ووهله.
غږ یې وکړ: نه! هلته هیڅ اوبه نشته. ما هر ځای اوبو پسې ولټاوه، نه لاندې ویاله کې او نه پاس ویاله کې اوبه شته، پوه شوې؟
رڼا او سبنا دواړو آسمان خواته کتل. د لمر وړانګې د دوی په مخو لګیدې. هر څه خړ پړ او وچ وو.
دواړه دې پایلې ته ورسیدل چې دلته هیڅ اوبه نشته.





رڼا په ولاړې کښتۍ کې ځان وغورځاوه او په یوې دړې يې تکیه وکړه. هغه ډېره ستړې شوې وه. رڼا وویل:
د مینو کورنۍ کلی پرېښی ده. هغوی ښار ته تللی چې اوبه لري. شاید مونږ ټول کډه شو.

سبنا وویل: ته لاړه شه. تاته هیچا نه دي ویلي چې دلته و اوسیږه.
رڼا وویل: ښه ده، او هغې کور خواته حرکت وکړ. خو دا ښه خبره نده. لا تر اوسه نه باران شته او نه اوبه.
بله ورځ رڼا خپل غاښونه په خړو اوبو پریمینځل، او خړې اوبه یې له خولې وشیندلې.
په ښوونځي کې نیم ټولګی تش ؤ. ډیری کورنۍ کډه شوي وو.



رڼا دا حالت نشوی زغملی. هغه ټولو خپلو ملګرو پسې خفه وه.
د چاپیریال ساتنې په ټولګي کې هغه له نیم درس څخه را ووته، او له ښوونځي څخه په منډه شوه.




هغې دومره منډې ووهلې چې ساه يې لنډه، لنډه کېده. او د سړک په غاړه کېناسته. او وې ويل: زه بايد اوبه پيدا کړم.
يو غږ پرې وشه: کولای شم درسره مرسته وکړم؟ دا غږ د سبنا ؤ چې رڼا يې له ښوونځي څخه د منډې په وخت کې ليدلې وه.
رڼا وويل: هو!
سبنا وويل: دا کار بايد په سمه توګه لکه د اوبو د انجينرانو په څير سرته ورسوو.
رڼا وپوښتل: د چا په څير؟
سبنا وويل: د اوبو انجينران د اوبو پايپونه، د اوبو زيرمې او د اوبو ډنډونه جوړوي، او زه هم غواړم په راتلونکي کې يوه انجينره شم.
بيا دواړو تصميم ونيوه چې د خپل کلي نقشه جوړه کړي. د اوبو ډنډونه او ويالي پکې رسم کړي له کوم ځای څخه چې اوبه د دوی کلي ته راځي.



اوبه به چیرته تللې وي؟ بیا دوی کیناستل او نقشې ته یې کتل. بیا رښا وویل: دغه یو ډنډ چې په نقشه ښکاري، لا تر اوسه نه یو ورغلي. سبنا وویل: زه چې ورشو. بیا دواړه د غره په لور لاړل. دغه د اوبو ویاله هم وچه وه. سبنا په خفګان سره وویل: کاش چې له ښوونځي څخه نه وی راغلي ځکه دغه ډنډ هم وچ دي.



کله چې دوی دواړه دغه ډنډ ته ورسیدل، ګوري چې ډنډ له اوبو ډک دی.



سبنا د ډنډ په یو کونج کې د اوبو یو پمپ ته اشاره وکړه. د ډنډ دیوال لاندې د اوبو ټانکر ولاړ ؤ چې اوبه یې ډکولې.
یو کس ټانکر سره نزدې ولاړ ؤ.
رڼا وویل: دغه راز هم پیدا شه. هغه هیڅکله د راز له پیدا کیدو وروسته نه په غصه کیده.

رڼا غوښتل چې پوه شي او پوښتنه یې وکړه: زمونږ اوبه چیرته وړې؟ سړي ځواب ورکړ: ښار ته. په ښار کې ډېر خلک دي او ډیرو اوبو ته اړتیا لري. سبنا وویل: دا سمه خبره نده. سړي په بې پروایۍ سره وویل: بس همداسې ده. رڼا ور غږ کړ: زما ملګرې د اوبو انجینره ده او هغه له تا څخه ښه پوهیږي. سړي وخندل: د اوبو انجینران معلوم وي تاسو ماشومان یاست. سبنا وویل: هو، خو ته نشې کولای چې زمونږ اوبه ویسې. سړي وویل: کور ته لاړې شئ، تاسو هیڅ شی نشئ بدلولی.

رنا وویل: مونږ ستا د اوبو پمپ در ماتوو، او پمپ خواته ورغلل.

سرې وویل: اوهو! انجینران جوړول کوي نه ورانول.


سبنا په خفګان سره وویل: هو ... نه ... نه داسې نده.

خو رنا وویل: زه یوه څارنواله یم! زه چې هر څه وغواړم هغه کوم.





رڼا ښه نظریه درلوده. هغې پمپ په غیږ کې ونیوه او وې ویل: ته نشې کولای چې پمپ روښانه کړې.
سبنا هم ورمنډه کړه او پمپ یې له رڼا سره ونیوه.
سړی ډېر په غصه شه او وې ویل: هې! کورو ته لاړې شئ.



په همدې وخت کې وریځې را ماتې شوې. په آسمان کې بریښنا وشوه او باران پیل وکړ. سبنا په خندا شوه.

رڼا چیغه کړه: د پسرلي باران پیل وکړ.

سړي وویل: زه خو کور ته ځم که تاسې پاتې کیږئ خپله خوښه مو.

بیا نو ډیر په شرنګ ووریدل.




او هو، د ډنډ دیوال ړنګ شه، ویالې له اوبو ډکې شوې او اوبه هرې خواته بهیږي.
رڼا وویل: اوبه پیدا شوې! او راز کشف شو!
دوی دواړه ډیر خوښ شول.

**څو کلمې د اوبو په اړه**

ډنډ: د انسان په لاس جوړ شوی ځای دی چې اوبه پکې را ټولیږي. د ډنډ اندازه د یو حوض یا د یو لوی بند په کچه وي.

د ډنډ دیوال: یو وړوکی دیوال دی چې له خټو یا له تیږو جوړیږي تر څو په ډنډ کې اوبه وساتلی شي.



وياله: يو وړوکی د اوبو کانال دی چې اوبه پکې بهیږي.

چینه: هغه ځای دی چې د ځمکې لاندې اوبه د ځمکې سرته پکې را خیژي.

د اوبو سطحه: د ځمکې لاندې د اوبو کچه ته ویل کیږي. کوهي د همدې لپاره کیندل کیږي تر څو د اوبو سطحې ته لاره پیدا او راپورته شي.



# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا کولای شئ داسې یوه نمونه وښایاست چې د اوبو کمښت انسانان، بوټي او ژوي له ستونزو سره مخ کوي؟

۲. ولې د رنجي په کلي کې خلکو اوبو ته لاسرسی نه درلود؟ فکر کوئ کوم څه چې پیښ شول کټور ؤ؟ که چیرته تاسو هلته د حفظ الصحې انجینر وئ، کوم کارونو به مو کړي ؤ؟

۳. آیا په کوم ځای کې چې تاسو ژوند کوئ، د اوبو کمښت شته؟ د اوبو د کموالي لامل څه دی؟

۴.ستاسو اوبه له کوم ځای څخه راځي؟ آیا ستاسو د څښاک اوبه په خپل وخت راځي؟ تاسو خپلې د څښاک اوبه څه ډول زیرمه کوئ؟

۵. کوم ستونزه غواړې حل کړئ؟ په څو ډول کولای شې ستونزې حل کړئ؟